مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند ۲۰۲۶/۰۲/۰۱

# لنډۍ، د ثبتولو ستونزه

## ۳۵۹مه برخه

پهنیمهشپه کې راپهزړه شوې
په غاښ مې وچیچل د صبرتعویزونه

په نوم دې زه بدنامه ګرځم
په دیدنو دې ګاونډیان مزېکوینه

د ډاکترۍ ډیګرې دې راوړه
د دولسمفارغه نهمېدرکوینه

اوس مې پرقبر داسې تاوشه
لکه په ژوند چې زه ترتا نه تاوېدمه

د لنډیو د دې برخې لهپاره دا لنډۍ برابرې شوې دي:

ځان لیونی که، دېخوا راشه
په لیونتوب کې به مې وکړې دیدنونه

څنګه دې مست په یارانې وم
څنګه رنځور دې د ببلتون په تبه شومه

ته به مې کله، کله یادکړې
زه دې په زړه پورې ګنډلې ګرځومه

ته مې د غېږې په ارمان یې
ما دې مرګې ته صدقې منلېدینه

تا خو پهخپله زه رخصت کړم
د پښېمانۍ اوښکې دې ولې پر مخ ځینه

توخې په ورو کړه، څه پېښ نهشي
مور مې میره ده، اوس به نېغهتاستهوینه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

په نیمه‌شپه تپه راوکړه
یار مې بایللی دی، یوازې ناسته‌یمه

په تا به ورانکورگۍ اباد وي
پر ما به ناست وي د خپل قبر دېوالونه

په خوله به جنگ درسره وکړم
د زړه کوځې بـه درنـه ځـنـگـه ببـلـومـه

پر ما دې وي، پر تا دې نه وي
سخته گرمي، د ژمي یخ، ساړه بادونه

په وس مې هېڅ هم پوره نه‌دي
له ډکوسترگو به دې سترگې واړومه

پهٔ ازلي قلم مې بایلو
خوشې دعوه له ببلتانهٔ سره کومه

په‌نیمه‌شپه کې راپه‌زړه شوې
په غاښ مې وچیچل د صبرتعویزونه

په نوم دې زه بدنامه گرځم
په دیدنو دې گاونډیان مزېکوینه

ستا یارانه اور او اوبه دي
اور مې سیزي، اوبه مې ښکته ډوبوینه

ستا به له ما نه گیله کېږي
قسم دی یاره بندیوانه مې ساتینه

ستایارانه د شمکي ده
شمکی تریخ دی، له ناکامه یې تېرومه

راشه د زړه علاج مې وکړه
نور د چیندرو پر کرښو مه‌وهه ټوپونه

رنگ بهٔ مې ولې نهٔ زېړېږي
چې غنم رنگ اشنا د کال پهٔ سفر ځینه

زما نصیبه گنډېریه
نه دې ځاروي خوري، نه دې سیند په ځپو وړینه

زما دلالي صفت شروع دی
نجونو کې زه لکه سرداره ناسته‌یمه

زما بانه دې ترې لوگی شي
زما کاته د جانان بد راغلي‌دینه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

**زما ترې زړه کله صبرېږي**
**که غاښ يې‌وزي، مخ يې ګونځې، ګونځې‌شينه**

**زه د يورپ جنګی ځه‌کړم**
**چې خرېپره پښتنه ليلا لرمه**

**د ډاکترۍ ډيګري دې راوړه**
**د دولسم‌فارغه نه‌مې‌درکوينه**

**د دروغجنو مخ دې تورشي**
**زه د لالي په غيږ کې چا ليدلي يمه**

**د بېلتانه کال دې پوره‌شو**
**ستا د پنځو ورځو يارۍ پښېمانه کومه**

**دواړه‌لاسونه رانه پرې‌کړې**
**چې د پردي‌جانان مې وروتېکاونه**

**د بيوسۍ اخيرۍ حد دی**
**د زړه توټې له مجبورۍ دې هيرومه**

**دا هم د تا د يارۍ تس دی**
**لکه ماهي پر بيابان سلکی وهمه**

**د يار يارۍ نه مې زړه تور کړه**
**خدايه سجدې به درته شپه ورځې کومه**

**د مسافرو ياري مه‌کړئ**
**سرې د زړه په رنځ اخته کړي، بيا ترې ځينه**

**د بېلتانه احسان راپورې**
**ما د لالي په قدر ورو - ورو پوهوينه**

**د مازديګر زېړيه لمره**
**ژړېناه کېږه چې د يار ديدن ته ځمه**

**د جدايۍ ورځې دې شمارم**
**تول تاريخونه مې پر زړهٔ ليکلي‌دينه**

**د سترګو تور لالې مې ورک دی**
**زرګر ته ناسته يم ځېره يې جوړومه**

**د بېلتانه کال دې پوره‌شو**
**ستا د پنځو ورځو يارۍ پښېمانه کومه**

**بېګاه د يار کلي ته لاړم**
**په خندا لاړم، په ژړا ترې نه راتلمه**

---



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ [maqalat@afghan-german.de](mailto:maqalat@afghan-german.de)
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

بې وسي دا ده، چې زما ده
غږ يې راځي ديوال ته ګونګه ناستهيمه

بېورورهخور په کلي راغله
اواز يې وکړ چې د چا کره به ځمه

بې له تا مرمه، دا مې حال دی
لکه ماهي چې بېاوبو شي، اخر مرينه

چې ما ويلای، خدای منلای
اوس به د پندې خپلخاني ښځبنتنه وومه

چې ورونه مري، خويندې دې مړې شي
بېورورورو خور به ناز پر چا باندې کوينه

چې مسافر شي بيا بهٔ راشي
د تور لحد بندي خو بيرته نهراځينه

اوس مې پرقبر داسي تاوشه
لکه په ژوند چې زه ترتا نه تاوېدمه

ادکهمور درنه لوګیشه
په پردی ژبه راته مهليکه خطونه

يوځلي دېخوا نظروکره
په تشکتو خو دې څوک نهحلالوينه

کهٔ د جهان طبيبان راشي
چې مې جانان پوښتنه نهٔ کړي، مړبهشمه

که د ديدن باران دې نهوای
د بېلتانه ګرمۍ به سوي وو ملکونه

که په ژړا نصيب ښه کېږي
ما خپل سپيره نصيب ته ډېر ژړليدينه

که مو ديورنږ تر منځه نه وی
لکه ملنګ به دې کوڅه کې ګرځيدمه

کهٔ د جانان غمونه نهٔ وای
د پسرلي تر ګل بهٔ زهٔ نازکه ومه

ولې رېښتيا راباندې وايې
چې ودې نهوينم، نرۍ تبه مې وينه

ښهشوه چې تا نه راپوره شوه
چې ملامته درته زه نهشوم مئنه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکي په ځير و لولـئ

**ما د نېستيو زور ليدلی**
**ما اوررېدلي دي د خلکو پېغورورنه**

**له ادمزادو نه بېزاريم**
**نور به لېوان په يارۍ نه‌نيسم مينه**

**هلته مي بل په ژوند راګډ دی**
**دلته مي نوک له غوښې څنګه واړومه**

نوربيا

د ليکوال نورې ليکنې په لاندې لينک کې لوستلای شئ:

http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ